# اې خلکو! دا کار مې ځکه وکړ چې ماپسې اقتدا وکړئ، او زما لمونځ زده کړئ

له ابو حازم بن دينار څخه روايت دی: چې يو څو سړي سهل بن سعد الساعدي ته راغلل، پداسې حال کې چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د منبر په اړه يې سره په خپلو کې اختلاف کړی و چې له څه شي څخه جوړ و، نو د منبر په اړه يې ورڅخه پوښتنه وکړه، هغه وويل: قسم په الله زه پوهيږم چې هغه څه دی او له شک پرته مې په لومړۍ ورځ ليدلی چې کېښودل شوی و او لومړۍ ورځ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې کېناست، رسول الله صلى الله عليه وسلم له انصارو څخه فلانۍ ښځې ته -چې سهل يې نوم ياد کړ- خبر ورولېږه چې: «مُرِي غُلَامَكِ النَّجَّارَ أَنْ يَعْمَلَ لِي أَعْوَادًا أَجْلِسُ عَلَيْهِنَّ إِذَا كَلَّمْتُ النَّاسَ»، «خپل ترکاڼ غلام ته دې امر وکړه چې زما لپاره لرګي جوړ کړي تر څو پرې خلکو ته د خبرو کولو پر مهال کښېنم» نو هغې ورته امر وکړ، نو د ځنګل د غز له ونې څخه يې جوړ کړ، بيا يې راوړ او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې يو څوک ورولېږه، هغه امر وکړ چې هغلته کېښودل شي، بيا مې رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد چې لمونځ يې پرې وکړ، تکبير يې ووايه او پرې د پاسه و، بيا يې رکوع وکړه او هغه پرې د پاسه و، بيا شاته کوز شو، نو د منبر په بېخ کې يې سجده وکړه بيا بيرته وروګرځېد، نو کله چې فارغ شو خلکو ته يې مخ کړ او ويې وييل: «أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّمَا صَنَعْتُ هَذَا لِتَأْتَمُّوا وَلِتَعَلَّمُوا صَلَاتِي». « اې خلکو! دا کار مې ځکه وکړ چې ماپسې اقتدا وکړئ، او زما لمونځ زده کړئ».

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

يو صحابي ته يو سړی راغی او د هغه منبر په اړه يې ترې پوښتنه وکړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم کاروه؛ چې له څه شي څخه جوړ شوی و؟ دوی په دې اړه بحث او اختلاف کړی و، نو دا خبره يې ورته ياده کړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د انصارو يوې ښځې ته چې ترکاڼ غلام يې درلوده يو څوک ورولېږه او ورته يې وويل: چې: غلام ته دې امر وکړه چې يو منبر راته جوړ کړي تر څو پرې خلکو ته د خبرو پر مهال کېنم، نو مېرمنې د رسول الله صلى الله عليه وسلم خبرې ته لبيک ووايه او خپل غلام ته يې امر وکړ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ځنګله د غز له ونې څخه منبر جوړ کړي، نو کله يې چې له جوړولو څخه فارغ شو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې ولېږه، هغه امر وکړ چې په جومات کې د منبر پر ځای کې کېښودل شي، نو بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې لمونځ وکړ، تکبير يې ووايه او رکوع يې پرې وکړه پداسې حال کې چې د منبر د پاسه و، بيا راکوز شو او لږ غوندې شاته يې قدم واخيست پرته لدې چې شاته مخ واړوي، نو د منبر په بېخ کې يې سجده وکړه بيا بېرته وخوت، نو کله چې له لمانځه څخه فارغ شو خلکو ته يې مخ کړ ، او ويې ويیل: اې خلکو! دا کار مې ځکه وکړ چې اقتدا راپسې وکړئ او د دې لپاره چې زما لمونځ زده کړئ.